روژه او قرآن شفاعت کوي

له عبدالله بن عمر «رض» څخه روایت دي چې د الله«ج» رسول ﷺ فرمايلي دي : « روژه او قرآن د انسان شفاعت (سپارښتنه) کوي : روژه وايي : اي زما ربه! ما دي په ورځ کې له خوراکه او شهوتونو څخه منع کړي دي نو ده په هکله زما سپارښتنه ومنه . او قرآن وايي : ما دي په شپه کې له خوبه راګرځولی دی. نو ده په هکله ځما سپارښت ومنه . نو ددواړو سپارښت به ومنل شي. »

(دغه حديث، امام بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړی دی)

شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک نشراتي ارګان

روژه فرض ده

لوي خداي (ج) فرمايي:«اي هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (اي مؤمنانو!) په تاسي باندې روژه فرض شوې ده ، لکه څنګه چې له تاسي نه په پخوانيو خلکو باندې فرض شوې وه . ددې دپاره چې تاسي تقوي داره او پرهيزګاره شي.»

(البقرة:١٨٣)

دوهم کال ځلورمه ګڼه پرلپسې (٥٤) | چهار شنبه د١٣٧٥ هـ ش کال ددلوې دمياشتې (٣) | د١٩٩٧ميلادي کال جنوري (٢٢) | د١٤١٧هـ ق کال د رمضان المبارک (١٣)

د اسلامي اردو لويې برياوې دې ټولو مسلمانانو ته مبارکي وي

د کاپيسا ولايت په بشپړه توګه او د پروان د ولايت د مرکز په ګډون

ډېرې سيمې د شر او فساد له عناصرو او ګلم جمو څخه پاکې شوې

د شريعت خبريال د جګړې له لومړيو کرښو څخه خبر راکړ د هغو تصفيوي عملياتو په ترڅ کې چې د پنجشنبې ورځې د جدي د مياشتې د اوه ويشتمې په سحر د اسلامي اردو د زړورو او مېړنيو مجاهدينو لخوا په داسې حال کې چې روژه يې په خوله وه پيل شول د دښمن د بګرام د هوايي ډګر او د پروان ولايت د مرکز چاريکارو د ښار کمربندو ته مات شول او د اسلامي اردو ګواګونه دغه سيموته په فاتحانه ډول ورننوتل. خبر کې ويل شوېدي، چې د بګرام او چاريکارو د ښار او ښاو خوا کلبو له فتحې وروسته د دښمن پسې نوري هم وښوتېدي او جبل السراج ته يې سر ورسيد .

په خبر کې ويل شوېدي چې د هاغو عملياتو په ترڅ کې چې د جمعې په ورځ د جدي د مياشتې په ٢٨ مه د تګاب او نجراب په ولسواليو پيل شول د لوي خداي په مرسته او د اسلامي اردو د جنګياليو او مېړنيو مجاهدينو په همت د کاپيسا ولايت په بشپړه توګه فتح او د اسلام سپين بيرغونه په کې ورپول شول.

د دې برياليو عملياتو په نتيجه کې د دښمن لسګونه مليشې وژل شوي او ټپيان شوي او سل ګونه ته يې اسيران نيول شويدي .

همدارنګه يې چې د لسګونو ټانګونو او نقليه وسايطو په شمول د دښمن په ډېره پيمانه سپکه او درنه وسله او ډول ډول مهمات چې مليشو د شمال ته را انتقال کړي وو د اسلامي اردو د مجاهدينو لاس ته ورغلل خبر زياتوي چې دښمن خپل جنګي مورال له لاسه ورکړيدي او د تېښتې په حال کې دي چې د مجاهدينو لخوا تعقيبيږي .

محترم ملا محمد حسن اخند د جګړې لمړۍ کرښې وکتلې

د جګړو له لمړيو کرښو څخه د شريعت اوونيزي خبريال خبر راکړ چې د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شوري مرستيال الحاج ملا محمد حسن اخند په داسې حال کې چې د وزيرانو د شوري ګڼ شمير غړي ورسره ملګري و په شمال کې د جبهې لمړۍ کرښې وکتلې . محترم ملا محمد حسن اخند د چاريکارو او د بګرام د هوايي ډګر په فتحه کولو کې د اسلامي اردو د مجاهدينو او پوځونو د مېړانې او اتلولي ستاينه وکړه او هغوی يې خپلو دندو او مسؤليتونو ته متوجه کړل . د يو بل خبر له مخې د سرپرستي شوري مرستيال الحاج ملا محمد حسن اخند تيره ورځ د خپل کار په دفتر کې د کابل ښاروال، د کندهار ولايت ښاروال او ننګرهار ولايت د امنيې له قوماندان سره په بيل بيل ډول وکتل او د روانو حالاتو په اړه يې ورسره تفصيلي خبرې وکړې .

تمام اهالي پروان پشتيباني شان را از دولت اسلامي اعلام نمودند

خبرنګار هفته نامه شريعت از شهر چاريکار خبر ميدهد در جلسه که به همين مناسبت داير ګرديده بود و مسولين دولت اسلامي افغانستان نيز اشتراک ورزيده بودند محترم ملا امير خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور به اشتراک کننده ګان اهداف و برنامه هاي دولت اسلامي افغانستان تحت قيادت عاليقدر امير المومنين را در امر استقرار و ص(٤)

اهل هنود او د سکه مذهب پيروان له شريعت اوونيزې سره په مرکه کې :

په پوره اطمينان خپل مذهبي مراسم تر سره کوو

له تشتيدلي اداري سره د هند همکاري خائنانه عمل ګڼو

د سکهانو مذهبي مشر سندر سنګه

په اوه لس کلن جنګ کې مو تجارتونه بند و اوس مو بېرته روان کړيدي

هندو تجار شنکرلال

زمونږ غصب شوې کورونه او مالونه طالبانو مونږ ته بېرته وسپارل

پخوا مو په جيب کې پيسې نشوې ګرځولی اوس يې په بوجيو کې په ډاګه ګرځوو

د درمسال د خدمتي کميټي غړي ديا سنګه

د خپل ګران هيواد افغانستان د څمکني بشپړتيا او ياغي ډلي ماره مرغړيانو لوته چمتو يو

مذهبي معلم مهندر سنګه

مونږ د حجاب د اعلان بشپړ ملاتړ کوو

هندو مذهبه ميرمن

دواړو لوستونکو تيره ورځ د شريعت خبريال په کابل کې د اهل هنودو او د سکه مذهب له څو تنو پيروانو سره ددې مذهبونو د پيروانو په نماينده ګي مرکه کړېده چې په ګډه يې لولو

لطفاً د شريعت اوونيزې دواړو لوستونکو ته ځان معرفي کړئ .

ځواب : زما نوم سندر سنګه د نهال سنګه زوی يم اصل ځای مې چاريکار دی فعلاً کارته پروان کې اوسېږم او د سکه مذهب د پيروانو مذهبي مشر (بابجي) يم

پوښتنه :

تاسي خپله مذهبي ازادي څه ډول احساس کوئ ؟

ځواب: زمونږه په مذهبي امورو او د عبادت په چارو کې هيڅ هم مداخله نه ده کړي مونږ هر سحر او ماښام په درمسال کې سره راټولېږو او عبادت کوو . مونږ فکر کاوه چې طالبان به مونږ ته څه ستونزې پيدا کړي چې راګ يا قوالي چې د موسيقي له الاتو سره تر سره کيږي زمونږ د عبادت جز دي او طالبان خو له موسيقي سره مخالف دي خو زمونږ د مذهب د احترام په خاطر يې هيڅ هم نه دي ويلي. د جدي په ٢٦ د چارشنبي په ورځ مو د چاګروګوبن سنګه د زيږېدلو ورځ د خوښي او خوشحالي په فضا کې په داسې حال کې چې ميلې مو جوړې کړې وې د کارته پروان په درمسال کې ونمانځله .

پوښتنه :

د افغانستان د اسلامي دولت په کورنيو چاروکې د هند مداخله څه ډول ارزيابي کوئ؟

ځواب : مونږ له تشتيدلي اداري سره د هند همکاري خائنانه ځلورم مخ

په دې ګڼه کې لولئ

دشريعت تبصره	٢مخ
ستاسو ليکونه زمونږ...	(٣)مخ
وقتی استعمار(قهرمان)...	ص٢
ازادي و حريت از ...	ص ٣
دادب مرغلري	٣مخ
نوي اسلامي حکومت او ...	(٤)مخ
پيام تبريکيه دولت مصر ...	ص(٤)

په کابل کې دوه بډې اخستونکي لاس په لاس ونيول شول

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ شبير احمد چې ګمرک کې د ... او ... په ترڅ کې لاندې کسانو سره له ... ته دوه سره زره افغاني رشوت واخلي د ... په وخت کې د ... مرکز لخوا لاس په لاس ونيول شو

د يو بل خبر له مخې احسن الله د ... د وردګ ولايت د چک په ولسوالۍ کې د بډې اخستلو په وخت کې ... ولسوالۍ د امنيې قوماندانۍ د ... لخوا لاس په لاس ونيول شو ... تر تحقيق او څيړنې لاندې دی .

محترم طالبان چې د حق تعالی له رضا او له اعلای کلمة الله پرته نور څه نه غواړي د لوي خداي «ج» په مرسته له هغوی سره ده او ورځ په ورځ برياليتوبونه ور په برخه کيږي او دښمن سنګر په سنګر تعقيبوي چې اوسنۍ فتوحات زمونږ ددې ادعا ثبوت دی .

له مزار شريف نه راغلي يو عيني شاهد د «شريعت» اوونيزې ته وويل :

د دوستم وسله وال افراد د مظلومو او بېچاره او خلکو بچيان د پيسو لپاره اختطاف کوي

ماوليدل چې پلار او زوی يې په يوې کمپلې قمار ته ناست و

دوستم د وسلې په زور خلک د جګړې کرښو ته کشوي

د جنبش د افرادو تر منځ اختلافات ډېر زيات شويدي

تيره ورځ د شريعت اوونيزې خبريال له مزار شريف نه راغلي يو عيني شاهد سره لنډه مرکه کړېده چې د دړنو لوستونکو خدمت ته يې وړاندې کوو . عيني شاهد زمونږ د خبريال دې پوښتنې په ځواب کې چې د دوستم د جنبش اړيکې له ولس سره څه ډول دي داسې وويل : باور وکړئ چې ولس له دې فاسدې ډلې نه ډېر تنګ شويدي. د دوستم خپلسري قوماندانان په خلکو ډېر ظلم کوي ، په مالونو او جايداد يې قبضه کوي، کورونه او ... ځلورم مخ

د عاليقدر امير المومنين په نامه کاپيسا د ولايت ، د چاريکارو ښار او د بګرام د هوايي ډګر د فتحې له امله د هيواد له مرکز او ولايتونو نه د مبارکي پيغامونه را رسيدلي دي

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په پيغامونو کې د کابل په شمال کې د مجاهدينو او د اسلامي دولت د پوځونو د فتوحاتو له امله د ښکلو هيلو او مبارکيو په ترڅ کې داډ ورکړل شويدي چې د افغانستان خلک د عاليقدر امير المومنين په مشرۍ د اسلامي دولت د ستر د ټينګښت او پراختيا په کار کې له هيڅ راز سر ښندنې او قربانۍ نه ډډه نه کوي

دغه راز په پيغامونو کې د مجاهدينو او د اسلامي دولت د ځواکونو د مېړانې او اتلوليو درناوي شوېدي او د لوي خداي له دربار نه د دښمنانو په له منځه وړلو کې د هغوی د زياتو برياليتوبونو هيله شوېده . په پيغامونو کې ويل شوېدي چې حق تل په باطل باندې بريالی دی او برياليتوب د هغه چا په برخه کې دی چې د حق او د اعلای کلمة الله په خاطر مبارزه کوي .

به تاسي از هدايت عاليقدر امير المومنين کار اعمار مسجد جامع چاه انجير ولايت هلمند پايان يافت

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد مسجد متذکره که به همکاري ولسوال آن ولسوالي ، اهالي قريه چاه انجير و تاجران محلي بمصرف مليونها افغاني به طور اساسي اعمار ګرديده در يک وقت ګنجايش پنجهزار نماز ګذار را دارا است .

جت هاي جنګي ګلم جم يکبار ديګر فضاي آرام شهر کابل را متشنج ساختند

ساعت ٧:٣٠ شب چهار شنبه در حاليکه هزاران هموطنان مسلمان ما مصروف راز و نياز با خداوند متعال ، ادا نمودن نماز تراويح و ختم قرآن عظيم الشان بودند جنګنده هاي جت مليشه هاي دوستم به فضاي کابل هجوم آوردند و مدتي توجه نماز ګذاران را به خود جلب نموده ، و اطفال را از خواب بيدار نمودند . که به اثر فير دافع هواي اردوي اسلامي مجبور به فرار ګرديدند.

مليشه هاي دوستم و مسعود که در اين اواخر به دست پر توان نيرو هاي اردوي اسلامي در خطوط مقدم جبهه به شکست فاحش مواجه ګرديده اند ميخواهند غيظ خود را از اين طريق فرو نشانده و نماز ګذاران و تلاوت کنندګان قرآن عظيم الشان را بيباره نمايند و چهره اصلي کفر و نفاق خود را يکبار ديګر بر ملا سازند .

رقم رسمي بيکاران در روسيه افزايش يافت

آژانس خبري انټرفاکس ګذارش داد رقم رسمي بيکاران در روسيه درسال ١٩٩٦ دو چند افزايش يافته که مجموعاً نه اشاريه سه فيصد اتباع واجد شرايط کار کردن در آنکشور را تشکيل ميدهد

تعداد واقعي بيکاران ممکن از اين رقم چندين بار بيشتر باشد زيرا تعداد زياد بيکاران با حکومت ثبت نميباشد . بسياري از روسيها در نتيجه ... اجوره اندک مجبور اند در ... از جا کار نمايند .

يکتن از قوماندانان ګلبدين در مربوطات ولايت غور به دولت اسلامي پيوست

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد لعل بهادر فروتن که قبلاً در مخالفت با دولت اسلامي قرار داشت با يک ضرب توپ هفتادو شش ميليمتري و يک ميل ريکويلس ص(٤)

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

خاينان به هرو مرو حساب ورکړي

هغه کسان چې د افغانستان مجاهد او مسلمان ملت د جهاد په اوږدو کې د خپلو مشرانو او امرانو په حيث ومنل ، په ډېره درنه سترګه يې ورته وکتل او د دوی تر قوماندې لاندې يې د هغه وخت د شوروي اتحاد د سرو لښکرو او د هغوی د افغاني مزدورانو په ضد خپل بيساري او نامتو جهاد ته ادامه ورکړه ډېرې ځاني او مالي قربانۍ يې ورکړې په پای کې د الله نصرت او رحمت، د شهيدانو کرامو (رحم الله تعالی) او مخلصو مجاهدينو د اخلاص په برکت جهاد هغسې بريالی شو چې د وخت شوروي اتحاد خپل هر څه بايلل او تږې يې تښتاره وکړه؛ د افغانستان مسلمان او پا تور ملت دغو غټو او وړو امر صاحبانو (!!) ته په هيواد کې د چارو واګې په لاس کې ورکړل او په پوره اعتماد وربسې روان شول طمع يې دا وه چې دوی به دوران وبچاړ هيواد د بيا ودانولو لپاره پر اخلاص کار وکړي د شهيدانو او مسلمان ملت د زړه ارمان (اسلامي شريعت) به په عمل کې پلي کړي ، د باتور ملت د جهاد عزت به وساتي ، د تږي د مستضعفو مسلمانانو ملاتړ به وکړي ، د يتيمانو اوښکې به پاکې کړي سر تورو کونډو ته او تور مسلمانو خويندو ته به ټکري ورپه سر کړي مګر له بده مرغه دې ظالمانو په دغو ټولو هيلو خاورې واړولې او د خپل با تور ملت د اعتماد او پوره اطاعت په بدل کې يې د دوی په هر (٢)مخ

فتح مبين پروان، کاپيسا آغاز حتمی اضمحلال و انحلال کلی نيرو های مزدور مليشه ئی حاکم بر سمت شمال ميباشد

شريعت

داميتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسئول مدير : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتکي»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوې ګڼې بيه : په هيواد کې (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلدارې
پته : کابل وزيراکبر خان مينه/سرک۱۱/ کور (٥۲۰)
تيليفون : ۲۱۲۸۱- توزيع و شکايات ٦۲۸٥۹
پوسټ بکس : (٤۷۱)
په پيښور کې : دطالبانو نمايندګی/ تيليفون: ۸٤٤۳۲۱

د سرمقالې پاتې برخه

څه ملتوي ووهلي ، د دوي په جهادي عزت، د دوي په اسلامي عزت، د دوي په شخصي او ملي شتمنيو ، آن تر دې چې د دوي په ناموس يې هغسې لوبې وکړې چې د سر دښمن يې په چا نکوي؛ هغسې لوبې وې چې له هغو نه اخوا نور ناروا عمل نه ور پيدا کيده چې دوي د خپل خبيث او اماره بالسؤ نفس او غريضې د قانع کولو دپاره تر سره کړي واي ، ځکه يې نور د مجاهدو طالبانو او نورو اصيلو مجاهدينو زغم په صفر ودراوه او دعلماو کرامو د شرعي فتواګانو په استناد وريسې راپورته شول او قهريدلي ملت هم د دغه اسلامي پاڅون په تنګه کلکه ملا وتړله تر څو يې دغه د شر او فساد ډلي د نړدي دوه کلونو په موده کې د دې سره سره چې د بهرنيو اسلام دښمنو حکومتونو او احزابو ملاتړ ورسره او زښته زيات مادي او نظامي امکانات يې په اختيار کې و د الله تعالى په فضل او کمك سره د هيواد کنجکې ته ايسار کړل ، هر څه يې ورنه واخستل او د ملت په ساتنځايونوکي"خوندي کړل ، شر او فساد يې د اکثر افغانستان نه ختم ، امن راغي، اسلامي شريعت تطبيق شو- الحمد لله - او نړي اوس ورو، ورو، حقايقو ته په ځير او په تدريج سره اعتراف وربانديء کوي، هيأتونه يې مخې او راځي د سفارت خانو د خلاصولو ، د کمکونو د رارسولو ژمنه کوي او د معصر د اسلامي هيواد په سطح د روژې د مبارکي پيغامونه را استوي، او هغه وخت لرې ندې چه نړې د افغانستان اوسني اسلامي دولت د حقايقو د ادراك له مخې په هغه شان وپيژني لكه څرنګه چې په نفس الامر کې د افغانستان د ملت پوره ملاتړ ورسره ، په حالاتو مسلط ، مشروع او نماينده دولت دې ؛

په داسې حال کې چې د دې وخت راڼدې شوي دې چې د افغانستان مسلمان او با تور ملت د خپلو ملي او ديني خاينانو ستونو ته لاس ورو‌ړې او حساب ورسره وکړي دغو رټل شويو او تښتيدليو لوټمارانو د اداري مشرانو د خپلې وارخطايي هڅې تيزې کړې دې او په دې برسيره چې د اسلام دښمنو، خاينو ، بهرنيو حکومتونو د غلامي کړې يې لا ښخوا په غاړه کړې دې اوس يې نو د هغه وخت د مشرقي شورا هغه لوټماران چې د ملت د محاکمې څخه په منډه خلاص شوي دې په پيښور کې سره راغونډ کړې دې او هلته يې د نورو په اشاره يو بل تصوري ننګرهار او مشرقي شورا په نوم يو څه سره جوړ کړې دې چې ګوندې دا به مو د ژغورنې (!) سبب شي ، هغوي چې په پوره مهارت سره يې په کلونو کلونو د امن د کور ، د مشرقي د علماو د شورا او د بيطرفي تر عنوانونو لاندې هم د مسلمانانو ملي او فردي شتمني او هم يې عزتونه په غيرګو لاسونو لوټل د وخت د بې کفايته اداري نه يې هم په کانتينرونو افغاني باج اخيست ، دا وخت يې بو ځل بيا طلايي موقع وګڼله او په هغه پاخه مهارت سره يې د شړيدلي اداري د مشرانو دغو بې ګټې او ناکامو هلو ځلو ته لبيك ووايه او دومره څه يې ورته اعلان کړل چې يو ځل بيا هغه پخوانی باج چالان کړي او هم له هغو خاينو بهرنيو حکومتونو نه چې په افغانستان کښې ثبات او مستقر دولت د ځان لپاره خطر ګڼي ډير څه تر لاسه کړي او تر لاسه کړي وي ؛

دوي په ګوه سره چه هر څه سنجولي يا ترلاسه کړي وي هغه به وي مګر د افغانستان مسلمان او ځيرك ملت داسې پتيبلي ده چې خپل غداران او خاينان هر چيرته ، په هره سطحه او په هر غار کې چې وي بلاخره به يې تر استونې نيسي خپل حساب او کساتبه ورنه اخلي. والتوفيق من الله تعالى.

ستاسو ليکونه زموږ ځوابونه

د شريعت اوونيزه د بادرده او بادرکه مسلمانانو آرمان پوره کوي

پدې کې شك نشته چه د هر مسلمان ايماني درد دوه شيان سرته رسوي (توره، قلم) د افغانستان با درده بادرکه مجاهد اولس چه د ځوارلس کلن جهاد په پاې کې د نا اهله اشخاصو لخوا د شر او فساد او ناوړه افعالو سره مخامخ شول چه پاك جهاد ئې د دښمنانو په ګټه تمام کړ د مايوسيا حالت ته په رسيدو سره د لوي خداي «ج» په فضل او مرحمت سره د طالبانو تحريك منځ ته راغي چه د توري په زور سره ئې د شر او فساد مخ نيوي وکړ د مفسدينو څټونه ئې ورمات کړل .

د توري په څنګ کې د زياتو مشکلاتو سره سره د شريعت اوونيزې د هيواد نه بهر په خپل همت سره د مسلمانانو د سوي زړه آرمانونه هم د قلم په ځوکې سره سرته ورسول چه هغه د آسماني الهي کتاب احکام په الهي زمکه کي جاري کول اود مفسدينو بيګايه تبليغاتو مخه نيول دي .

د زياتي خوشحالي او شکر ځاي دا دي چه د شريعت اوونيزي خپلې خپروني په داخل د هيواد (کابل)کي شروع کړي تر څو د نژدې نه د مجاهد اولس د زړه آرمانونه پوره کړي او په الهي احکامو او د آمر او د مامور په اطاعت او مسؤليت مسلمانان پوه کړي موږ به ددې لوي نعمت شکر کله ادا کړي شو بيا هم الحمد لله دوعا کوو چه باري تعالي دې دشريعت اوونيزي کارکونکو ته زيات توفيق ورکړي چي د توري په څنګ کي هميشه د قلم په ځوکي سره د سوي آه او فرياد آرمانونه سرته ورسوي = آمين يا رب العلمين .

د اسلام خادم مولوي پير محمد روحاني .

محترم وړمولوي صاحب پير محمد روحاني (تني) لېك دې راورسيد او کټ مټ مو درته نشر کړ .

ستاسې د نورې همکارۍ په هيله (اداره)

يوه دوستانه مشوره

د شريعت اوونيزې محترمو کارکوونکو

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

قدرمنو ورونو هره خپرونه او هره جريده ځانګړې تګ لاره او د ليکنې اصول لرې، په تيره بيا کومه خپرونه چې د کوم خاص هدف او مشخص مرام لپاره خپروني کوي او د يوه ځانګړي تحريك د نشراتي ارګان په توګه رامنځ ته شوي وي ، نو تر هر څه د مخه پخپلو پاڼو کې هغو مطالبو ته د لومړي توب حق ورکوي چي د همدغه غرض او همدغه مرام لپاره لېکل شوي وي، که چيري دغه شان خپرونه ورځپانه وي او يا په اوونۍ کې دوي او يا دري ګڼي خپريږي بيا نو که پخپل لومړي مخ کې ځينې مهم ورځني خبرونه ځاي کړي دومره زيات بې ځوندہ نه بريښي، خو که دغه خپرونه اوونيزه وي، يا لس ورځني يا پنځلس ورځني او يا هم مياشتني وي بيا د خبرونو پر ځاي سياسي تحليلونه ، سياسي تبصري، سياسي مرکې او مضمونونه د لوستونکو د پاملرنې وړګرزي او ګټور توب يې زيات وي

د شريعت درنده اوونيزه چې يو کال له هيواد څخه بهر خپره شوه او بې شميره لوستونکي او مينه وال يې درلودل، هغه وخت ددې ضرورت و چې د سياسي تبصرو، تحليلونو، مرکو او مضمونونو تر څنګ پخپل لومړي او څلورم مخ کي ورځنيو مهمو خبرونو ته هم ځاي ورکړي، ځکه له هيواد څخه بهر د طالبانو اسلامي تحريك يا په عامه ژبه د افغانستان اسلامي دولت نوري ورځپاڼې او خپرونې نه درلودې تر څو خپل هيوادوال او نور مينه وال له ورځنيو پيښو څخه خبر وساتي، خو نن چې د شريعت اوونيزه د هيواد په پايتخت کابل کي خپروني کوي، نو دغه مشکل حل دي او هغه دا چې اسلامي دولت پخپل چوکاټ کې پر راډيو ګانو سر بيره په کابل او ولاياتو کي يو شمير دولتي ورځپاڼې هم لري چې هره ورځ له نويو خبرونو او پيښو سره چاپيږي .

ستاسو ورور ځيرنمل محمد عارف «غږوال»

ډير محترم او قدرمن ورور محمد عارف غږوال زموږ منقابل سلامونه او احترامات، هم ومني

له دوستانه او نيکو مشورو ډك لېك مو راورسيد. او کټ مټ مو نشر ته وسپاره

ګرانه وروره تاسې پوهيږئ چي شريعت اوونيزه د طالبانو د اسلامي تحريك مرکزي نشراتي ارګان دي او څنګه چي د هيواد په داخل کي ډير لوستونکي لري همدا راز له هيواد نه بهر په امريکا، اروپا ، عربي هيوادونو او پاکستان کي هم ډير لوستونکي لري اوله هيواد نه بهر موږ نوري خپروني نه لرو چي مينه وال د افغانستان له پيښو او مهمو مسائلو نه خبر کړي او موږ هم د خپل اخبار له حوصلي سره سم هغه خبرونه د نشر لپاره ټاکو چي ډير مهم او د طالبانو د اسلامي تحريك فعاليتونه روښانه کوي .

هيله ده چي خپلي مشوري اولاړ ښوونې له موږ نه ونه سپموي او خپله قلمي همکاري را سره جاري وساتي. (اداره)

له نوي نړۍ سره څه دول سيالي؟

دا هغه اصطلاح ده چې د نوي عصر ځنو ځواکونو او خوېندو څخه اوريدل کيږي څرنګه چي نوي دنيا دوي ځلورم مخ

وقتى استعمار (قهرمان) مي سازد !

جهاد افغانستان از سال ۱۳٥۷ تا سرنګوني نجيب و بقدرت رسيدن مجاهدين در کابل ، بشکل قابل توجه سر خط عمده اخبار در رسانه هاي ګروهي غرب را تشکيل ميداد و درين ميان از فرماندهان مجاهدين که تعداد شان در طول دوران جهاد به صد ها نفر مي رسيد، هيچکدام چون احمد شاه مسعود در رسانه هاي ګروهي غرب مطرح نبود و برايش تبليغ صورت نګرفت .

درين رابطه ميتوان دلايل چند را موثر دانست : هر چند مسعود قومانداني مجاهدين فقط يك ولسوالي را بعهده داشت ولي دره تنګ و پر پيچ و خم ، پنجشر که توسط کوههاي سر بفلك کشيده شده محاصره شده است، کمين ګاه مناسب براي ضربه زدنه به روسها بود و در عين حال دفاع از چنين دره خطرناك نيازمند اسلحه و امکانات و نفرات فروان نبود. خبرنګاران بم آساني از جنګ درين دره فلمبرداري ميکردند و در عين حال پنجشير از سنګر هاي مقاومتي به شمار ميرفت که نزديك به پايتخت قرار داشت .

اما در افغانستان مناطق ديګري هم وجود داشت که مجاهدين آنرا آزاد کرده بودن ولي انګونه که پنجشير و (شير پنجشير) را غرب با بزرګنمايي قهرمان ساخت در مورد هيچکدام از قومانداناان ديګر چنين نشده و درين رابطه شخصيت مسعود بعنوان يك فرد مورد پسند غرب بيشتر نقش و اثر داشت.

غربي ها در تماس با مسعود يك نکته را بخوبي دريافتند و آن اينکه او يك مسلمان «بنياد ګرا» آنګونه که غرب از آن در هراس باشد نيست و مسعود که از اين حساسيت غرب بخوبي اګاه بود هميشه سعي داشت تا در تماس با غرب اين تصور را که وي وابسته به يك تنظيم بنياد ګراست از ميان بردارد. جدايي شوراي نظار بعنوان يك تنظيم مستقل که شکلي از ائتلاف با جمعيت اسلامي را داشت قدم ديګري بوه براي دادن چراغ سبز به غرب و البته در اين ميان نقشي را که سازمان هاي جاسوسي غرب، با تعبيه افراد خود در کنار مسعود و انحراف وي بازي کردند نيز نبايد ناديده ګرفت، بطور مثال (سندي ګال) که از سالهاي اول جهاد يك موسسه امداد طبي براي افغانستان را در پشاور اساس ګذاشت در مصاحبه يي بصراحت اعتراف کرد که سازمان جاسوسي انګلستان (MI6) به من وظيفه سپرد تا با احمد شاه مسعود (کار) کنم.

تبليغات غرب براي ساختن يك چهره قهرمان از مسعود روي ذهنيت افغانها تاثير داشت و در نتيجه همين تاثير بود که آتش بس مسعود با روسها در ذهنيت مردم حساسيت زياد توليد نکرد و به مسعود و هوادارانش موقع داد تا اين انحراف صريح از مسير جهاد را با (صلح حديبيه) مقايسه نمايند !!؟

مسعود تصور خود از حکومت اسلامي را هميشه مطابق به سليقه غرب مطرح مي کرد، در مصاحبه ئي که از وي در شماره (۸٦۸) جمعه ۲۲ اکتوبر ۱۹۹۳ جريده «الوطن العربي» چاپ پاريس به نشر رسيده است در جواب اين سوال که دولت اسلامي براي شما چه معني دارد ؟ سعي ميکند که «هم لعل بدست آيد و هم يار نرنجد» يعني هم مردم افغانستان وي را مسلمان بدانند و هم غرب را راضي سازد در جواب ميګويد :

سمير «ستان»

« من الحمدلله مسلمان هستم و مسلمان باقي مي مانم، آرزويم اينست که نظام اسلامي را برپا داريم. اسلام دين اعتدال و تسامح است. اسلام خواهان زياده روي و تندروي و افراط در دين نمي باشد. من مسلمان معتدل هستم و خواهان دولت اسلامي معتدل مي باشم که شريعت اسلامي نظامش را تشکيل دهد . »

او ميخواهد اختلاف خود با حکمتيار را از آغاز ناشي از اختلاف يك افراطي با يك معتدل قلمداد نمايد او ميګويد :

« حکمتيار نسبت به هر تلاش راه اندازي انقلاب ديد خاص خود را داشت. وي دست زدن به انفجار ها و ترور و امثال آنرا ترجيح ميداد اما من مخالف با خشونت و اقدامات تروريستي بودم چون از نظر من چنين روشي با مبادي اسلام سازګاري ندارد »

در اينجا مسعودميخواهد به غرب نشان دهد که تروريست حکمتيار است نه من در حاليکه ملت مسلمان افغان بخوبي ميداند که عامل اصلي اختلاف ميان اين دو فقط عطش سيري نا پذير براي رسيدن بقدرت بود و بس .

اما دولت اسلامي معتدل مسعود را همه ما در عمل ديديم، دولتي که در آن کمونيست ها از هر ګروه و ګرايشي در کنار غربي ها و مجاهدين يکجا و بدون تبعيض کار کنند . به اصطلاح « عيسي به دين خود باشد و موسي به دين خود » مسلمان حق نداشته باشد تا به يك کمونيست و يا سيکولر بګويد که چرا شعاير ديني را رعايت و احترام نمي کنيد. آيا چنان وحشي جز ذلت ارمغاني براي مجاهدين مسلمان داشت ! بياد مي آيم که يونس قانوني يکي از نزديکان مسعود در شوراي نظار وقتي بحيث وزير داخله نخستين سخنراني خود را به مامورين اين وزارت ايراد کرد ګفت « کسانيکه از آغاز حکومت مجاهدين با ما يکجا شدند و در حکومت ايفاي وظيفه نمودند براي ما هيچ فرق از مجاهدين ندارند که در دوران جهاد عليه روسها جنګيدند »!! جانب خطاب وي در اينجا کمونيست ها و مليشه هاست .

مسعود هم در مصاحبه هاي خويش هرګز منکر موجوديت کمونيست ها در مقامهاي دولتي بخصوص (اردوي اسلامي!) نيست او در مصاحبه با «الوطن العربي» نيز اعتراف مي کند که مخصوصاً در اردو کمونيست ها وجود دارند « اما در حال حاضر خطري براي ما بشمار نمي روند مګر اينکه بعضي از کشور ها و دست هاي خارجي آنها را پشتيباني و تحريك کنند ..فراموش نکنيد آنها (کمونيست ها) زمانيکه قدرت را در دست داشتند نتوانستند عليه ما دست بکاري بزنند چګونه ميخواهيد حالا از آنها هراس داشته باشيم ؟ »

مسعود با اين سخن ميخواهد کمونيست ها را برائت دهد در حاليکه به فرد فرد ملت مسلمان ما معلوم است که کمونيست ها زمانيکه قدرت را در دست داشتند از هيچګونه ظلم و ناروا عليه ملت مسلمان مادريغ نورزيدند . آنها صدها هزار نفر را فقط به اين جرم که مسلمان اند به وحشيانه ترين شکل ممکن شکنجه نموده و اعدام کردند بقاياي اجساد اين شهداي زنده بګور شده توسط دژخيمان کمونيست در بسياري از ولايات افغانستان موجود است . کمونيست ها شايد به شخص مسعود ضرري نرسانيده باشند بلکه وي را در رسيدن بقدرت در برابر رقيبش (حکمتيار) ياري دادند ولي چشم پوشي از اين نکته مهم حقاي جبران ناپذير به تاريخ و ملت مسلمان افغانست است که همين نا بکاران کمونيست بودند که با آوردن قشون سرخ به کشور ما بنياد اين ويراني و جنايت را ګذاشتند .

مسعود وقتي وارد کابل شد ببرك کارمل، نجم الدين کاوياني، مزدك و بسياري ديګر از جنايتکاران کمونيست در همين شهر کابل بودند و تانکهايي که روي آن تفنګداران شوراي نظار نشسته بودند از خانه هاي آنان در مکروريان پاسداري ميکردند اينها براي شير پنجشير هيچ ارزشي ندارد زيرا او ميخواهد با دست يازيدن به هر وسيله ممکن بر سر قدرت باقي بماند . کسيکه بجاي کسب رضاي خداء ج» در صدد جلب رضاي ابليس بر آيد خداوند او را چنين خوار و ذليل مي سازد که بايد به پابوسي دوستم و خليلي برود و سر انجام خود را بدامني روسيه بياندازد .. کشوري که روزي وي در جنګ با قشونش القابي چون شير پنجشير و (نيشوي افغانستان) ګرفته بود .. اين خود نشان ميدهد که استعمار چګونه با ساختن (شير هاي کاغذي) و (پهلوان پنبه ها) علتي را اغفال نموده و حاصل خونها و شهادت هاي آنانرا به يغما مي برد.

اينکه مسعود با وجود جدا ساختن تشکيلات ګروه خود از جمعيت اسلامي باز هم شوراي نظار را در ائتلاف با جمعيت قرار داد دليل ديګري نيز داشت . او در ميان رهبران جهادي هيچکدام را ضعيف النفس تر و بي اراده تر از استاد رباني سراغ نداشت مسعود هر آنچه که مي خواست ميتوانست بر رباني تحميل کند چنانچه در ماجراي اعلام جهاد و باز پس ګرفتن جهاد در مورد دوستم ديديم .

د شريعت تبصره

روژه د فتوحاتو مياشت

د طالبانو اسلامي تحريك چې د شرعي نظام تنفيذ او د شر او فساد د عناصرو له نا پاکو منګولو نه يې د خپل درديدلي او کړيدلي ملت خلاصون په ځان لازم ګرځولي خپل همدي عالي مرام ته د رسيدلو لپاره يې په ځان شپه او ورځ يوه کړيده، دوي خپل سکون او اطمينان د ملت په ارامتيا او هوساينه کي وينې، د دوي په اتنګو کي به د خوښي سرخي هلته پيدا شي چې د افغان مسلمان ولس د اميدونو او هيلو غوټي په پوره ډول وغوړيږي .

اوس چي الحمد لله د لوي خداي«ج» په مرسته او د ملت د همدي باتورو بچيانو په همت د هيواد له اتيا فيصده خاوري نه ډيره برخه د غدارانو او ملي خاينانو له نا پاکو قدمونو څخه پاکه شويده او بشپړ امنيت او اسلامي نظام په کي نافذ دي،ددي لپاره چي د طالبانو اسلامي تحريك د ټول ولس د نجات هوډ کړيدي نو تصميم يې نيولي دي چي تر ځو پاتي مظلوم هيواد وال هم ددوي له شر او فساد څخه‌ونه ژغوري نو بوه شيبه به هم په ارام کښينتي ، چي خپل هم دي کلك هوډته د عملي جامې ورکولو په لړکي يې يو ځل بيا په خپلو ستررو تصفيوي عملياتو لاس پوري کړ او الحمد لله په لږ وخت کي د دښمن کلك سنګرونه ونړيدل، د اسلام دښمنان له سختې ماتي سره مخ شول او د اسلامي اردو اتل ځواکونه خپل هغه هدف ته چي د نظامي شوري لخوا ورته ټاکل شوي و ورسيدل.

د بګرام هوايي ډګر کمربند چې دښمن يې د استحکام لپاره ډيري هلي ځلي کړې وې او خپل ټول افرادي قوت او نظامي امکانات يې همدلته ځاي په ځاي کړي و د اسلام د طالبانو په وړاندي د شګو بند شو او خپله ونړيد د بګرام هوايي ډګر، د پروان دولايت مرکز د چاريکارو ښار، د جبل السراج لوړي ځوکي او د کاپيسا ولايت له نظامي لحاظه ډير استراتيژيك اهميت لري ددي ولايتونو او سيمو له فتحې سره د اجيرو عناصرو روحيه او مورال ډير راولويد ځکه دا د دوي لويي نظامي هډي وي او ټول امکانات يې د اسلامي اردو لاسونو ته ورغلل. د مسعود ، دوستم او خليلي مليشي په دومره بيره او وارخطايي له ښار وتلي دي چي مړي او ټپيان يې هم د جګړي په ډګر کي پريښي دي .

دا حقيقت دي چي څوك د لوي خداي په ځاي د مال او پيسو بنده ګي وکړي، د خپل خالق او د خپل خالق د نيك مخلوق سره دښمني اعلان کړي او د دنيا ژوند خپل نهايي هدف وګرځوي نو هغه دير جبون او بي زړه وي ، ددي خائنو افرادو دا بي زړه توب ټولي دنيا ته ښکاره شو د هغوي کلك سنګرونه، د نظامي، مالي او لوژستيکي موادو ډيرښت او بيا په داسې بيره تيښته چي لسګونه مړي او ټپيان تري په عامو لارو او کوڅوکي پاتي و چې ټولو خلکو او ژورنالستانو وليدل د هغوي د فحشا ځايونه، ساقي خاني او په سينماکي لوڅ عکسونه او فلمونه هر چا وليدل د طالبانو له اسلامي تحريك سره د هغو سيمو د اوسيدونکو ملاتړ او همکاري هم ژورنالستانو وليدله چي مجرمين به يې له خپلو کورو راويستل او د اسلامي اردو امنيتي ځواکونو ته به يې سپارل د فتحه شويو سيمو د اوسيدونکو په تندي کي د خوښي نيتي او فتحه شويو سيمو ته د هغو مهاجرو هيوادوالو د راستنيدلو بهير هم . ژورنالستانو وليد چي ددي مفسدو عناصرو د ظلم او وحشت له لاسه يې خپل کورونه پريښي و .

مبصرين او د افغانستان د وضعي څيړونکي باور لري چي راتلونکي وخت له بوي مخي د طالبانو د اسلامي تحريك او اسلامي دولت په ګټه دي، اوس د ژمي يخ او ساړه مخ په وتلو دي او د ګرمي موسم را روان دي او شمالي سيمي نسبتاً نور هيواد ته ډيري سړي دي چي جنګ په کي لږ څه مشکل دي نو اوس داسنونزه هم مخ په حل کيدلو• او اقليمي شرايط طالبانو ته بالکل چمتو دي .

په سيمه کي د بلدتيا موضوع هم د غورورړ ده اوس د اسلامي اردو ځواکونه له سيمي او حالاتو سره بلد شويدي لاري او ګودري ورته معلومي شوي ، استراتيژيکي سيمي يې وپيژندلي نو چي د نابلدتيا په وخت کي يې دښمن په منډو کړي وي‌نو د بلدتيا په صورت کي خو دا چانس ډير زيات دي. همدا راز دا ځو کاله چي مسعود او دوستم زموږ د هيواد د شمالي سيمو اوسيدونکي د خپل هوس په اور کي وسوځول، دومره ظلم او وحشت يې ورسره وکړ چي ددوي هر بچي به يې ياد لري نور به دي د پرديو مزدورانو ته اجازه ورنکړي چي د طالبانو د اسلامي تحريك په وړاندي چي د خوا خوږي او ملي او اسلامي وحدت پيغام له ځانه سره لري وجنګيږي او د دوي کورونه د جګړي ډګر وګرځوي ځکه دوي اوس له دي کبله هم د طالبانو راتللو ته شيبې شماري چي لږ د ارام ساه واخلي دوي اوس په حقيقت پوه شويدي او د مسعود او دوستم په هغو ناروا تبليغاتو چي د طالبانو په اسلامي تحريك پسي يې کول نور نه غوليږي د فتحه شويو سيمو له هغو خلکو سره چي د مخالفينو د پروپاګنډو او لسون په اثر يې، د اسلامي اردو په ضد وسله اوچته کړيوه، د اسلامي اردو تر برياليتوب وروسته نيك بر خورد او د عاليقدر امير المؤمنين لخوا د عمومي عفوي، زړه سواندي او ترحم اعلان د دوي غوږونه نور هم خلاص کړل.

دوي اوس درك کړيده چې د دوي زامن او ورونه د چا لپاره جنګيږي ايا د هماغه چا لپاره و جنګيږي چې په دوي يې له چنګيز نه هم ډير ظلمونه وکړل ؟! دوي پوه شوي چي نور ولي خپل بچي د چا د شومو اهدافو قرباني کړي او دا يې هدفه جګړي او روان ناورين به تر څو وي نو ددي ټکو ،، پام کي نيولو سره سړي داويلي شي چي اولني انعکاس هم د طالبانو په ګټه دي .

د فتحي او ماتي پديده له نظامي او روحي لحاظه ډير اهميت لري د فاتح مورال تل لوړوي اود تښتيدلي او ماتي خوړلي مورال لويدلي وي د پروان او کاپيسا د ولايتونو فتحي د طالبانو مورال دومره لوړ کړيدي چي اندازه يې بوازي د دښمنانو له تښتيدي او ماتي نه معلوميږي او بس . د بګرام له فتحي سره سم يې سر آن جبل السراج ته ورسيد له نوبو سوبو او د دښمنانو د مړو او ټپيانو له پاتي کيدلو وروسته د دښمن افراد له يو بل ذهني او روحي کشمکش سره مخ شويدي هغه دا چي څو د خواه او مغرور عناصر خوبي د خپلو ګټو لپاره استعمالوي او جنګوي يې خو د وژل کيدلو ، ټپي کيدلو او اسير کيدلو په صورت کي يې بيا په کيسه کي هم نه وي .

د رمضان مبارکه مياشت موږ ته د بدرشاه ځلمي او فتوحات را يادوي موږ باور لرو هغه فرښتي چي د بدر په غزاکي د مجاهدينو نصرت ته راکوزې شوي اوس هم د مفسدينو او کمونستانو په ضد جهاد کي زموږ سره اوږه په اوږه جنګيږي!؟ان شاء الله چي د روژې مياشت د فتوحاتو مياشت ده .

موږ د اسلامي حکومت مخالفينو ته وايو چي که د بګرام، چاريکارو،تګاب، نجراب او محمود راقي کمربندونه مو د اسلامي تحريك د باتورانو په وړاندې تم کيدلي نه شي نو په نورو ځايوکي مو هم ښتې ټينګيدل ممکن ندي . هسې بې ځايه ځانونه مه ستړي کوي او دا دردېدلي ملت نور مه کړوئ .

شاعـــر ته د باغ وحش د زمري خطاب

عبدالطيف «نثار»

شاعره وليکه د ژوند مي دا بيان وليکه
ما چه ليدلي په کابل دا تريخ داستان وليکه
ډير کړيدلي نا اميده افغانان و دلته
د سرو لښکرو قاتلي اوسره روسان و دلته
دلته و ظلم او وحشت جوړ گورستان و دلته
چه په ژړا او چيغو سر دا يتيمان و دلته
حال مو د کونډو، په ژړاني لوند گريوان وليکه
دلته د خوارو افغانانو ډير کورونه وسول
دلته مو ښار ،کوڅي تباه هم بازارونه وسول
د عبادت ځايونه وران هم جوماتونه وسول
د اولياوو نذرگاه ډير زيارتونه وسول
چه په ارمان ئي د تکبير وم لوړ آذان وليکه
د دهمزنگ په خواکي پروت په ځنگيرونو کي بند
د بي همته جاسوسانو ستمونو کي بند
د غلو رهزنو کباړيانو په داموګو کي بند
د وحشت ورځو هم په مياشتو او کلونو کي بند
راته گران له تاج محل ووران دارالامان وليکه
بالاحصار غلو کړ ابسار لوړلوړ برجونه وران شول
دارالامان قصر تباه ډير نور قصرونه وران شول
د تاريخي کابل په زړه کي ډير نور زړونه وران شول
باغ بالائي کړ تباه ډير هوټلونه وران شول
لويشت لويشت مو قبر ټول کابل مو شهيدان وليکه
بيا زيري راغي چه زمريه طالبان راغلي
ددغي خاوري بيه اتل اتل بچيان راغلي
د پاك نبي د شريعت بيه پيروان راغلي
هم د قرآن د آيتونو حافظان راغلي
«نثار» بيا به شي سمسور کابل نن وران وليکه

د آزادي تال

فضل ولی «تاګار»

شفق دي په سرو سترګو د ماتم کيسه کوله
دا ټا ته لوړ اسمان ستا د سره غم کيسه کوله
وياړلي قرباني دي د وخت غير کښي تخنيده
دي تريخ ژبي تاريخ بي چم په چم کيسه کوله
رنګ راوړو ګونډي وينو د تنکيو ماشومانو
قرآن چي د کوثر او د زمزم کيسه کوله
بقا په انتشار کښي د دښمن له پاره نشته
د ستا په لمن ايښي بي هر قدم کيسه کوله
سر واخيست توياني شو ملو جذر د امت
فرياد بي د احيو د زيرو بم کيسه کوله
ما هم پکښي ورګو کي خپل يو تال د ازادي
تارونو د رباب چي د آدم کيسه کوله
وسلام سره ټکر دي د سيرغيو پوکول
سره د يو پخپله خوله د خپل عدم کيسه کوله
آسانه بي ستري د غيرتونو د کور نه دم
کوډلو چي په څه شان د حرم کيسه کوله
مرمي مي د نور کرښي دي په زړه کښي د باطل
هر داغ د سباوون د شومه دم کيسه کوله
هيواده بيلانه شوي د محکومو د جهاد
خوړلي بخارا، ازبك دي، هم کيسه کوله
د تندر غوښه اوريي د باطل په مخ که بل
(تاګار) چي د دردونو په قلم کيسه کوله

خجسته باد

لعلی

ياران نظام عادل و بر حق خجسته باد
ميهن از آن چو نو گل خندان شگفته باد
خون مي چکد ز جسم شهيدان ما هنوز
دستکه دست غير بگيرد شکسته باد
نخليکه سايه اش به ضعيفان بود تنور
از روي زمين ريشه و ساقش نه رسته باد
شاهيکه به خون ملت خود کند جفا
جسمش به زير خاك سياهي نهفته باد
پنديکه بگوش دل سنگش اثر نکرد
در پيش رو کلام اديب نا شنفته باد
خواهي اگر که راز تو روزي نشود فاش
با دوست ترين يار قدر دان نگفته باد
عالم اگر به خوان سلاطين کند نظر
از پيش پايش خار مغيلان نه رفته باد
پاي سيه دلان شکند در اداي ظلم
دست ستم به فرق يتيمان نه کرفته باد
(لعلی) و همين صندلي و دود ذغالش
يك شب سر بالين ز احسان نه خفته باد

د ادب مرغلري

مزه د نو کاروانو

سالك «قصبه وال»

راشه باره چي گلونه پکي کښت کړو
پري ښايسته کړو خپل وطن له وطنونو
د ريښتني لار او دين د خادمانو
غاړي ډکي شوي د گلو په هارونو
هغه خلك د ټولني د سر تاج شي
خدمتگار چي شي د خپلو ولسونو
د ښه خوي او نيك عمل خاوندان هر وخت
ملهم بوري کړي د بل په پر هرونو
يو قدم چي څوك په نيکه چاره کيږدي
رب د لوري پري باران شي د اجرونو
ثمره بي دده خوړه قصبه واله
مالبدلي دده مزه د نيو کاروانو

يد بيضا

قاضي محمد حسن «حقيار»

که په ازغي مي زړه زخمي نه ويرايه نه يم
که مي ښاري روښانه نه کړي نو سپايه نه يم
ووړه د مينې مي چي نه کړي په ځان ټول پتنګان
بس د دوزخ اور راته وطيه رنځا به نه يم
د ښا پيريو د ګلبڼ د رخ پړواك به زه
مړو ژړونه ورنکړم که ژوند مسته خندا به نه يم
که مي د ژوند وچو چينو ته خضر راته وښو
بيا به په خپله تش کالبوت يم مسيحا به نه يم
که دا د سحر ښاماران مي بيه نمږي نه کړل ټول
بيا تش لرګي راته وايه د حق اسبا به نه يم
له سوزه ډك اف مي که نکړي مستنر دوه ګلايه
نو سامري به يم بت پال روح د موسي به نه يم
که اسمانونه مي د پاکي ميني پل پل نه کړل
نو بيا د شپږ لاندي ميږي يمه عيسی به نه يم
که مي اعجاز نه کائنات وارډ حيران نه شي
د تش چاتو لمبه به يم يد بيضا به نه يم
که د غيرت طوفان مي ټول جهان ونه لړزوي
بي فيضه کاڼي به بيا يم زړه د اسبا به نه يم
ستا خود ميني عظمتونه کړم سلام «حقيار»
ږما به ليلو که خمار نه شوي نو ښکلا به نه يم

غم مخور

اي طالبان راه حق داري تو فرمان غم مخور
باشد بجوف سينه تو حفظ قرآن غم مخور
با مقدمت آورده صلح و سلم اندر وطن
کارت بود صدق و صفا از جور دوران غم مخور
بر مردم اين مرز و بوم نيك است مقدوم شما
خوش آمديد با سر حق اي راد مردان غم مخور
عزمت بنازيمن چند ارزش دارد نزد ما
تا در بدن جان يا شدم قربان تو آن غم مخور
از خانمان بگذشته با همنوعت دل بسته
پيمان حق نشکسته هستي به ايمان غم مخور
ثابت قدم ديدم ترا ثابت قدم خواهم ترا
من شفته ام با همتت اي نور چشمان غم مخور
گنج سعادت را بيرون از قهر دريا کرده
غواص بحر وحدتي از موج طوفان غم مخور
شرين زبان شرين سخن بلبل صفت داري توا
چون ذکر مولا سينه ات کرده است نوران غم مخور
پيروزيت باشد نصيب زلطف و اکرام حبيب
باشد بتو دايم حسيب آن ذات رحمان غم مخور
هر طاغيان و سرکشي از صف اسلام بر کشيد
آيات قرآن ورد تست از فتنه جويان غم مخور
از عشق پاکت طالبان اندر هراس است دشمنان
بس شورو غوغا سر زدند آن چرك دلان غم مخور
دارد طپش اين قلب من در هر نفس بر وصف تو
خير ترا خواهان منم از نزد سبحان غم مخور
فيض کلام خود رسان تو اي رموز با طالبان
که شدند بر ملت حاميان و ناجيان غم مخور

بيا به

شعر د ملا اسدالله «حنيفی»
انتخاب د ملا روزي خان «عاکف»

بيا به پسرلي ورمه د زرونو تخنول کوي
هر خوا به چمن کي د گلونو سکلول کوي
اخلي به مچکي د غاټول له سروغاميرورونه
دښته او دامان کي به دگلو ټوکول کوي
دښتي به رنگيني په ريدي او به لاله شي بيا
بيا به د لاله گلان به خلاصه خوله خندل کوي
